**لیکوالـی :** لـی کمپ (Lee Camp)

**منبع اودخپریدو نیټه :** انفارمیشنګ کلیرنګ هوز« 10-01-2020»

**ژباړونکی :** پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .

--------------------------------------------------- [ 6 ]

# په افغا نستا ن کي جګړه يودرغلي ده ( او اوس مونږ ثبوت لرو )

**the war in Afghanistan is a fraud ( and now we have proof)**



انفارمیشن کلیرنګ هوز:« بمونه شمیرل کیږي ، انسا نا نو نومونه لري ، زمونږ امریکا یی پوځ د مهارت اود لیوالتیا په درلودو اودهغه په کا روړلو سره له اعدادو څخه دزیا تو نومونو په بد لولو با ندي ویا ړي. اما دغه اعداد یا شمیره دومره ډیر شوي او له کنترول څخه وتلي چي څوک يي د پوهيد لو لپا رهڅه کوي .» .

یواځی دکا ل(2018) په لمړی لسومیا شتو کي وروستی موجودی شمیري ښيی چي زمونږ پوځ (5982) مهما ت یا توغندي پرا فغا نستا ن با ندي غورځولي ، کوم چي په دي کا رسره ډیری فکرونه ، ژوندي ا و مینه وال يی په سره ، بی جا نه شمیرو بد له کړي . دجګړي په جریان کي(43000)ملکی افغان وګړي شمیرل شوی یا په ګوته شوي اومونږدامریکایا نو

په توګه حتي هیڅکله دی ته هم پا م نه دي اړولي چي څه به راپیښ شي ، د احصا یو اود« آما رو» له نظره نن ممکن دی چي بیا به ډیرځل ورته پیښی راپیښ شی او په امریکي کي به هیڅوک هغه پیښی ته به اهمیت ورنکړی(کم ترکمه داچي لوبه پای ته رسید لي ) .

**له کال (2001) څخه تر ننه پوري (64000) افغا نی امنیتی ځواکونه شماره ګذاری شوي**

---

زمونږ حکومت له کلونورا هیسي پوهید لي چي په ا فغا نستا ن کي جګړه په حیرانونکي بڼه یوه نا ورین دی چي د « پیشو ګا نو » په کچه را پیښ شوي. سینما یی فلم ، هغه شا ن چي مونږ څنګه سره پوهیږو چي دوی پوهیږي .؟ واشنګټن پوست په واقیعت کي یو څه اغیزنا ک او احسا س را پارونکي راپورونه یا مقا لي خپا ره کړ چي دخپل هوس له مخي دجګړی د پلوی یا د طرفداری د تبلیغا تو لپاره شا ته ګام اوچتول دی ( چي وروستي ځل دا ډول لاسته راوړنه د **او.جی سیمپسون**(O.J.Simpson) محکمی په جریان کي وه ، لمړنی ، هغه هم د د سکشو سره ) . واشنګټن پوست دا ځلی زرګونو حکومتی سندونه چي دهیواد په د ننه کي وه کشف کړ، کوم چي د دی جنګ نا ورین افشا کوي او دا معلومه شوه چي داوربلونکي یا دیپلوزي( درګیران ) تا ریخ دځوان نوی نا زی اود بډا یهودی میرمن ترمینځ شتون لري چي ددی جنګ څخه غوره پرمخ تللی .

« ددی سندونو سوغات » داسي را ښیی چي دامریکي لوړ پوړی مقامات نه دی توانید لي چي دافغانستان دجګړي په هکله په دي (اتلسو) کلونو کي هغه څه چي راپیښ شوی دی خلکوته ریښتیا ووایي او په هغه راز راز اظها رات اورسمی اعلامیو اویا خپل باورونو کی کوم چي هغوی پرتولو پیښوباندی پوهید ی خلکوته له سره دورغ ویلي اودجګړی دنه تصور پټ شواهد کوم چي د توصیف وړ نه وه هغه یی پټ کړي دي .

پریږدی چي زه دواشنګټن پوست په اصطلاح دغه پرتوګا نه (پطلانه) ژبه وژباړم:د متحده ایالاتو چارواکو« ریښتیا ویلو کي پا تي راغلي » هغو لعنتیا نو « دروغ وایی» دحقایقو په ویلوپا تي راغلي ، دهغو ماغذه دعصبی لارو یا دمسیرونو په شاوخوا کي څپی وهي چي دعصبی اخذ و ( نیونکو) جریا ن په ا ستراتیژیکي بڼی سره له مینځه وړی یا خنثي کوي اودا سی په نظر راځی چي هغوی د ریښتیا ویلو مجا ل نه لري یا داچي ریښتیا ویلي نشی ، اودا سی را ښکا ری چي کبا ن د لغزش اود خوځښت په حا ل کي دی کوم چي امریکایی شکا رچیا ن نشی کولای دغه کبا ن شکار کړي .

**د بشردوستا نه مرستند یوو د کارمندانو شمیر (424) کسه ورکړشوی دي .**

راځی چي دیو څه لنډ مها ل لپا ره په ا فغا نستا ن کي د جګړی پر انګیزي اوپر اهد ا فو

*با ندي تم شو ، اوهغه داچي مونږ پوهیږو چي د ا مریکي متحده ایالات په ښکاره ډول پر دغه هیواد (ا فغا نستا ن) با ندي یرغل وکړ ترڅو چي د القاعده د بیا له هرلاری دیرغل مخه ونیسي ، چي هغوی د مسا فر بری لوي الوتکو پواسطه سره زمونږ پر تعمیرونو با ندي حمله ونکړي . مونږ د دوو میا شتو په موده کي خپل هد ف ته ورسید و او القاعده مو اسا سأ له مینځه ویوړل ، نوا وس دا پوره منطقی را ښکا ری چي مونږ با ید له دغه هیواد څخه پښی سپکی کړو او یا د با ندي شو اوخپل ځا ن ته دا حق ورکړو چي که چیری القاعده بیا له سره پرمونږ باندي د یرغل نیت وکړی مونږ وشوکړی چی دهغه دځپلو لپا ره بیرته هلته لاړ شو .*

*مګر مونږ له دی هیواد څخه ونه وتلو ، اوهیڅکله به هم دغه هیواد پر نیږدو ، اوهغه داچي دامریکا یی امپراتوري لمبر (1) قا نون کي داسی راغلي : هیڅکله له هغه هیواد څخه چي موږی یرغل کړي له یرغله وروسته مه راووځی ، نومونږ دهمدی اصل له مخي دخپل دوامدار شتون دتوضیح اودتشریح کولو لپا ره با ید دهد ف پوسته ( دفعالیت د اهدافو بدلول دمطلوب پایلو دتضمین لپاره ) خواته حرکت وکړو اوهغه څه ته ؟ اویا دڅه لپاره ؟ ځکه چي مونږ ډاده نه وو یا داچي مونږ لا په دی نژدی (شلو) کا لو کی تراوسه ډاډه نه یوو؟ نو که چیري تاسود متحده ایالاتو له جنرال یا دهغه هیواد له اولسمشر ( هریو چي وی ) پوښتنه وکړي چي په افغا نستا ن کی د تاسو له دوامدار پا تي کید و څخه هد ف څه دي؟ نوی دوی به دځواب دویلو پر ځای تاسی دسلاد (دالفاظو ترکیب کول کوم چي جمله دپوهیدلو لپاره لا پسی پیچلی کړي ) خوړلو ته بلنه ورکوی اوپه دی ډول به تاسی تر میا شتو پوري دځواب په انتظا رکي به وسا تي ، دا روښانه دی چی په حقیقت کی مونږ اوس په دی پوهیږو چي حتی د جګړي دلومړیو کلونو په مهال کي* ***پنتا ګون*** *اود* ***بوش*** *ا دا ره نه پوهیدل چي بد کسا ن څوک دي ؟ همدا اوس تا سی فکرکوې چي هغه ځوا ن نسبت و ما ته بی خبره دي چی ددښمن ځواکونوته (بدهلکان یا افراد) په توګه اشا ره کوم ، مګر لکه څنګه چي تاسو به په یوه شبیه (لحظه) کی وبه ګوري:( زمونږ دولت دواقعی کلیمي په مفهوم دهغه په مورد کي په همدی حالات اوشرایطو کي خبری کوي )* ***د لته جا نبی یا د لیک سرخط یاداشت ته پام واړویی :*** *داځکه چي دجنګی مجرمینو له خوا جنا یتکا رانه وژنی تل ځوان زورواکي ترسره کوي ، وژنه د تعریف له مخي حل شوی نه ده .*

*د ا فغا نستا ن د پوستې ورځپا ني د مقالاتو په وینا ، د اردو د ځا نګړي ځواکونو له تیم څخه یو نا معلوم پخوانی سلاکار وویل ، " دوی فکر کا وه چي زه به دوی ته د نقشې سره راشم ترڅودوی ته وښا یم چې چیرې ښه هلکا ن اوبدهلکا ن اوسیږي. دې څوخبرې وکړې*

[لومړی] لومړی ، دوی یوازې پوښتنې ته دوام ورکړ: "مګر بد هلکا ن څوک دي ، چېرته دي؟"

بیا هم موږ امریکا یا نو په لومړیو کلونو کې لاړښوونه کړې وه چې د دفاع وزیر **ډونا لډ رمسفیلډ** هرڅه ترکنټرول لاندې لري. د بل ډول معنی دا وه چې د لسګونوملیون ژیړ ربنونو (نوار یا فیتی) ملنډې وهل وي. مګرپه حقیقت کې ، **رامسفیلډ** هم د پام وړ بد هلک په اړین ستونزه درلوده.

زه هم هیڅ لږ لید یا دبصیرت قابلیت نه لرم چي ووایم بد هلکان ( بدافراد) څوک دي ؟ په عین زمان کي هغه ( رامسفلد ) دآواز د نه وتلو د تړلو دروازو تر شا وویل : اوپه عا مه اوښکا ره بڼی سره په ډیر زړه ورتیا سره دافغا نا نو په خا وره کي خپل ملت ته په ټا کلي اوپریکنډی توګه سره د بریا خبر ورکړ .

هغه یعنی **رامسفل**د په کا ل( 2003) کی دا فغا ن اولسمشر«حامد کرزي » ترڅنګ د یو مطبوعاتی کنفرانس په مها ل کي وویل : جنرال فرانک او ما ...... دی پا یلی ته رسید لی یعنی چي مونږ په دا سي یوحا لت کی یو یا قرارلرو چي په ځرګند ه ډول دجنګي فعالیتونو څخه د ثبا ت اویا د ټیکا و او د فعا لیتونو د بیا رغونـي پړا و ته تللی یو .

هوکي ،نه بل هیڅ یو لوي جنګ ،فقط یوا ځی (17) کاله بیا رغونه (اوفعالیتونه) په ښکاره ډول د متحده ایالاتو ترملا تړ لاندي ډیری اویا ډیرزیات رغونه دبمونو دغورځولو په وسیله تر سره کیږي ، راځی چي دا تا سو اود نړي ګڼ شمیر خلکو ته دا درس اویا زده کړه وی اودا به ښه وي چي تا سي مونږ مه را پیچوی ( مه را تا ووی) یا مه راغلوی مونږ تا سو اوستا سو ټوله کورنـي سره به جوړ کړو .

**په افغانستان کي دجګړي په مهال (67 )ژورنا لیستا ن (خبریالان ) له سره مو ورغول .**

آیا دوه لسیزی دیو ناپیژندل شوی ناورین دمینځ راتلو لپاره ډیر اوږد مهال دي ؟ ممکن دی چي مونږ وتوانیږوچي دهغه میعاد په دریوهد فی یا مرامی برخوسره را وغزوو :مونږ جنګ سالاران او افراطی جها د یا نو ته ما لی مرستی ترسره کړ یا چي هغوی ته مو بودجه تمویل کړ او هغه هم په دی نیت چي ګوندی هغوی به زمونږ لپا ره ښه لوبی تر سره کړي له بلی خوا څخه زمونږ امریکا یی اولسمشرانو په دوا مداره توګه سره مونږ ته ویل چي هغوی د ا فغا نستا ن په جګړه کي ځا نګړی پرمختیا و ی لري – اما **د ګلاس لوټ** ، د اردو درې ستوری لرونکی جنرال چې د **بوش** او**اوباما** دحکومتونو پرمها ل د افغا نستا ن دجنګ زار « سزار» په توګه دنده ترسره کوله ، په ( 2015 ) کا ل کې حکومتي مرکه کونکو ته وویل ، 'موږ دلته څه کول غواړو؟ موږ د هغه څه په اړه دلته دقیقا تصور نه لرو چې موږ

يې په لاره اچوو؟
زه دا سې انګيرم چې دغه نقل قول اوبيا په ځا نګړي بڼې سره ډيرې امريکا يا نو ته غملړلي اوزورونکې دي ،ځکه چې که چيري يوشي وی چې مونږ پکښې ښه يوو، دا دکا ر د ترسره کولو يو مبهم فکر دي کوم چې مونږ هغه ترسره کوو.
* **ويتنا م** : په دوړو لړلي نظر .
* **عراق** : ډير په دوړو اړلي نظر.
* **ليبي** : په دوزخې دوړو لړلي نظر .
***سرمايه داري** : بې حد وحصر په دوړو لړلي نظر .
په ساده بيا ن سره ،مونږ په بدونظريويا اند بيښنو اوا يد يوکې غوره يوو ، اما دافغا نستا ن دغه مقالات ديوډيروحشتناک اوبوږنونکې ا نځورڅخه پرده ا وچتوي ، چې مونږ بايد ددې ناخوالي سره ديو ملت په بڼه مقا بله وکړو او نه داچي نوموړې حقا يق ترغا لې لاندې تيل وو هو( اونه يواځې په دې دليل چې فرش بايد دآزاداقيانوس دڅنډې په اندازه وي ).
ددې افشا ګريو په اوريدوسره **اولف بلتز** ( Wolf Blitze ) له (CNN) څخه له هغه چا چې دهغه هويت دجعل له دترسره کولو څخه غوليد لي وه وويل :
« د واشنګټن پوست د څيرنيزراپورنو له مجموعې څخه د متحده ايالاتو جنګ دافغا نستا ن په اړه ځنې زړه راښکونکي حقيقتونو څخه پرده را اوچته کړې او دا سې ادعا شوي چې په دغه جګړه کي (2400) امريکا يې نظا مې استخدام شوې کارمندان اوسربازان خپل ژوند دلاسه ورکړي اوهم نژدې يو تريليون دالر په دغه جګړه کي لګول شوې دي ، واشنګټن پوست څرګندوي : امريکايي مقامات په مرتب اوپه پرله پسې ډول دامريکي خلکوته ددې جګړي په اړه تل دروغ ويلي دي ، چې دا پخپله واقعاً يوه بم دې يا يو بمې چا ودنه دې .
هوکي، په ريښتيا چې دا يوه بمې چا ودنه وه ،اوسربيره ددې حقيقت څخه چې دافغانستان په راڅيړل شوو مقا لوکي له څه کم اوزيا ت يوه لسيزه کي يولړ معلوما ت په ګوته کوي يا ور پيژني ، ها لا څه چې زه پخپله په کا ل (2012) کی مې يو ډول کمزورې کميدې ( طنزې) ډوله مقا لې ليکل اوهغه داچي زمونږ حکومت په افغانستان کي دجګړي دواړو لورو ته ځانګړې ما لې مرسته ترسره کوله اودا ددې ښکا رندوينه کوي چې د اصلي رسنې (ميد يا) سرچينې دوه لومړيتوبونه لرې : يوداچي دمتحده ايالاتو حکومت په تفريحي بڼې سره غواړې دخلکوپام داصلي مطلب څخه بل خواته واړوي اوبل داچي مونږ تول دتاريخ له سپيناوی څخه منحرف کړې يا واړوي .
دوې دامريکا يا نوسره مرسته کوي چي د هغو با ورونه او اعتما د را پيا ورې کړې او هغه داچي ووايې چې مونږ يواځې په افغانستانکي اوس اوس دخپل ناکامي په اړه وپوهيدو

اوپه تازه ګی سره مونږ اوس د **مکارتیزم** [ ( McCarthyism = دمتحده ایالاتوحکومت اودهغه پوری تړلي نور اړین نها دونه د کمونیستا نو په وړاندي یو غړیز کمپا ین له کا ل (1950) تر(1954) څخه د سنا تور **جوزف مک کا رتي** ترمشری لاندی پیل شو چي دهغه په ترڅ کي ډیر کسا ن په تورلیست کی شا مل اونورو ډیرو خپل دندی دلاسه ورکړل ، که څه هم چي ډیری یی په حقیقت کي د کمونیست ګوند پوری تړاو نه لرل .... **تفصیل ددی قلم پواسطه سره** ) ] اسلوب با ندی پیل کړی دي ، اوداځکه چی لا دمخه په پنځوسم (50) لسیزو کي دا ډول بوږنونکی پیښی نه وه رامینځته شوي ، لکه هغسی چي ا وس مونږ د کرهنیز فا بریکي په محیطی چا پیریا ل کي ساه لنډی سره مخامخ یو یا داچي مونږ دغه اختلاط ( ساه لنډی) را وموند یا کشف کړ ( زه تېوکی کوم ..... .... دغه شرکتی عمده رسنی هیڅکله هم په دی اړه راپور نه دی ورکړي – تاسی کولای شي چي د (سی ان ان ) لنګر چی د **ګیتمو** [(دمتحده ایالاتو د سمند ری اډی غیر رسمی نوم **دګوانتا نا مو** کوبا په خلیج کي]) په بوری «ګونی= sack » پوری غوټه شوی ووینی چی هغه لاتراوسه هم دی ته حا ضرنه دی چی اعتراف وکړی کوم چي د فابریکي ما لداری په ډیر بیړه سره زمونږ د سیاری (ځمکي) دوژلو او د تها جم په حا ل کي دي .

اما **بلتس**(Blitz) په دی راضی نه وه چي وښیی هغه شوکه یاحیران شوی چي دافغانستان جګړه ولی ښه مخکي نه ځي ، نوهغه د خپل نندارہ کونکو لپا ره خپل لوبی یا نقش ازموینی ته ورسول اوهغه هم په دی باور چي ممکن دعراق په جګړه کي ځنی نمیګړتیا وی هم ولیدل شي نو هغه وویل : زه یواځی په عراق کي د متحده ایالاتو د اوږدی مودی جګړی په اړه د ورته راپور لپاره تصور کولی شم اوزه شک لرم چي کیدی شی یوڅه ویرونکی خبرونه وی ترهغه ځا یه پوری چي هغه ته اړین ا وسیي .

دا ریښتیا دي: د تیرې میا شتې په څیر ، **بلیتس** فکر کوي چې ممکن په عراق کې د جنګ (جنګونو) سره یو څه ستونزې وي. (**بلیتس** پرما د هغه هلک په ډول برید کوي څوک چې تا سو ته پام نه کوي که چیرې تا سو دهغه پتلون په منفي –( 10 )درجې هوا کې غلا کړی وي.)هو، **ولف بلیتس** نه یوازې داچې زموږ په یرغل کې ورته ناوړه اداره اوډله بیز جنګي جرمونه راپیښ کړي . عراق خو تا سو په حقیقت کې د دې جګړې لپاره د خلکو د رضایت جوړولواودجلبولوکې هم مرسته کړې.تا سود ملیونونوخلکوپه مرګ اخته یا ست چې هیڅکله به له شمیرینی پاتي نشي

د تیرو ( 20 ) کلونو په جریان کې ، اصلي رسنی زموږ د مختلفو ولسمشرانو لخوا په وار واردرواغ اودرواغ سره تکرار کړلی دي .دوی دا دروغ زموږ په سرونوکې د تاثیراچونکی

فریکونسۍ سره ور دننه کړی دي ، د هغه چا په څیر دروغ چې د ولسمشر **اوباما** لخوا ویل شوي و، کله چې هغه ،په « 2012 » کې ، په ملي تلویزیون کې وویل: "په تیرودریو کلونو کې ، جریا ن بد ل شوی. موږ د طا لبا نو زور ما ت کړ. موږ قوي ا فغا ن امنیتي ځواکونه جوړکړي دي. زموږ سرتیري به کور ته راشي. ... څنګه چې زموږ ایتلاف موافقه وکړه ، د( 2014 ) کا ل تر پا یه به ا فغا نا ن د خپل هیواد ا منیت ته بشپړ مسؤول وي" .

زه ستا سو په اړه نه پوهیږم ، مګر زه په ( 2014) کال کې د جنګ د پای ته رسیدو له امله ډیر خوشحاله یم – هرکلی کوم چې( 2014 ) راشي. یا نژدی شي

## په ا فغا نستا ن کې(3800) تنه قراردادیان ددغو دروغو لپاره مړه شوي دي.

دافغا نستا ن مقا لي ښیی چې نه یواځی داچي (شل کلنه ) جګړه دانسا ن ژوند له مینځه ویوړل ، بلکه دهغه په څنګ کي یا دهغه سره ګډ دپیسو ضایعات اویا هدر تلل هم شامل دي البته داهغه مثله یا دپام وړ ټکي دي چي تا سی ورباندي به یو وخت فکر وکړي ؟ نظا می بیهودګي؟ ښه - زما د تیونو نوکي ( حلیما ت ثد یه ها) رنګ کړي ! ا و بیا ما ته **فلپس دلیلر** ( امریکا یی ښیځنه کمید ی لوبغاړي ) ووایا ست ! داهغه بی شرمه شي دي چي ما هم کله اورید لي دي .

هو ! دا په سختي سره ټکا ن ورکونکی دي ،ځکه چي په تیرو ( شلو) کلونو کي د (21) تریلیون دالرپه پنتا ګون کي بی حسا به شوي ، دا د پیسو دوه پر دریمه (2/3) برخه په ټول ستېا ک بازار (د سها مو په مارکیټ ) کی راټول شوی اودبلی خوا څخه پیسی په دومره ګړند يتوب ا فغا نستا ن ته لیږدول شوی چي چا رواکي يي نشي کولای چي په کا في اندازه سره دهغه دهدر کید و حساب راکړي ( کا شکي دا یوه ټوکه وه ) .

د واشنګټن پوست د مقا لو له څرګندونو څخه یو ځل بیا هم د متحده ایالاتو د نړیوال پرمختیا یی اداره (USAID) یواجراییوی مد یر اتکل وکړچي دغه مصرف (90) سلنه دهغو مصارفاتو له حده زیا ت مصرف دي اومونږ په واقیعت کی عینیت له لاسه ورکړي ، مونږ ته پیسی را کړ شو اوبیا مونږ ته وویل شو چې دا پیسی مصرف کړي اومونږ هم پرته له کوم دلیل دغه تر لاسه شوی پیسی مصرف کړل........ یو دفاعی قراردادی (پیما نکا ر) وویل :هغه تمه لرل یا ددی ضرورت درلود چي هره ورځ تر دری میلیون دالر دافغانستان په یوه واحده اولسوالی کی دیوپروژی د سرته رسید و لپا ره دا پیسی ولګوي یعنی دامریکی د یو ولایت د تصویب کړي شوی بود یجي په تنا سب .

هغه قراردادي زیاته کړ : چي هغه نشي تصور کولای چي څنګه دورځی (دری) میلونه

ډالر دهغه خلکو لپا ره مصرف کړي چي په حقیقت کي د ختو نه په جوړ شوی خونو کي ژوند کوي .، زه اټکل کوم چي (USAID) باید سل ډالری با نک نوټونه سره څنګ په څنګ د فرنیچر د جوړولو په منظور فرش کړی اود لوبیا په شکل د څوکیو د خیټی په د ننه کي د ډالرونو بنډ لونه ور د ننه کړي( که تاسی لا هم په قهر نه یاست ، نو مهربا ني وکړي اوپه یاد ولري ، د نیویا رک ټایمز په وینا د ډالرد نن ورځی تنظیم کوم چی پنتا ګون دغه پیسی د بود یجی په بنه چمتو اویا ځا نګړی کړي کیدی شی چي د (اتو) ورځو څخه په لړه موړده کي د نړی ټولو خلکو ته د څښا ک ا وبه عرضه کړی او په دی ډول متحده ایالات د نړی د خلکو په زړونو کي د یو خورا مهربا ن هیواد په صفت پر ځای کړي .

اما زمونږ پوځ ددی پرځای چي په دی جنګ کي پخپل فساد ، بډی اخیستو او سود جویی باندی قا نع یا اقرار وکړي ، ګنا ه دا فغا نستا ن د خلکو پر غاړه اچوي ، د واشنګټن پوست په وینا :د متحده ایالاتوپوځ پرافغا ن قوما ند ا نا نو تورلګوی چي دامریکی دما لیه ورکونکو پیسي دهغو خیا لی لسګونو زره سرتیرو ته د معا شونو د ورکولو په بڼه پخپل جیبونو کی اچوي ، که څه هم چي خیا لی سرتیری پخپله د یو ما تي نه با ورکونکی اوسخت منبع په توګه په نظر راځی . زه داسی انګیرم یا دا سی فکر کوم چی د هغوی منظور داسی وه چي افغانی قوماندانان داسی ادعا کول چي مونږ یو شمیر معین او ټاکلی سرتیری یا عسکر لرو– مګر ډیری یی بیا ریښتینی نه وه ( یعنی چي سرتیری نه درلودل ) ، هغه لا څه چی بیا امریکا دوی ته بودجه هم برابروی ، حا ل داچی امریکا د دی وسه نه لری چي دخپل قهرجن اوناراض اصلی سرتیرو ته هغه لازم روغتیا یی آسا نتیا وی کله چی هغوی بیرته وطن ته راستنیږی اوپه میا شتو میا شتو دروغتیا یی خد ما تو ته دلاس رسی انتظار با سی چمتو کړی. مګر مونږ کولای شو چی دنړی په یوه لیری پراته سیمه یا ځای کي شیطانی یا خیا لی سرتیروته ځا نګړي بودیجه چمتو کړو .

**دونالد ترامپ** بواځی د (700000) نفروخوراکي یا غذایی کوپون قطع اویا کمه کړ چي دهغه له امله له یو ملیون زیات امریکایی ماشومان دغذا د خوړلو څخه محروم کړل یعنی چی د د **دونالد ترامپ** په دی کارسره هغو متا ثره شویعنی چی پرهغو باندی بد اغیزه واچول مګرآیا مونږ دغه سپوغلي (ارواح یا خیا لی سرتیرو) ځنا وروته بودیجی نه برابروو – شاید چی لازم وګڼل شی چی په یوه کمپا ین لاس پوری کړو ا و د دغه خیا لی سرتیرو څخه وغواړو چی د متحده ایالاتو وږی ما شوما نو ته د خپل معا ش یوه برخه کوم چی هغوی ته خواړه برابر کړو مرسته وکړي .

داسی په نظر راځی چی دغه خیا لي ( دروح تجسم) سرتیری دامریکي دمتحده ایالاو لپاره یودوامداره ستونزي دي ، واشنګټن پوست په همغه ګڼه کي چي دافغانستان مقالي خپروه وي

نو په همدي ګنه کي یوه غیر مرتبط مقا له ( د متحده ایالاتو په چا رترشوي ښونځیو کي په ملیونونو دالرهد ر شوي ) تر عنوان لاندي د یو راپور په بڼه په دی لاندی عبا رت یا محتوی په نشر رسیدلي [ چی د «بارک اوباما» دزمامداری په وخت کي (537) خیا لی ښونځی په امریکا کي هیڅکله نه دی پرانیستل شوی ، اما د غه نا پرانیستل شوی ښونځیو ته دفدرال دولت له خوا (45,5) میلونه دالر تخصیص منظور او تصویب شوی دي ].

ظاهراُ داسی راښکا ري چي مونږ خیا لی ښونځیو اوخیا لي سرتیرو ته ما لی یا پولی تخصیص چمتو اویا ځا نګړی کوو اوهم دا سي انګیرو چي زمونږ په دولت کي هیڅوک نه غولیږي ! او زه داسي فکر کوم چي تاسی کولای شي چي ووایاست چي هغوی په خیا ل سره تغوط ( دغایطی موادو دفع ) کوي ،حا ل داچي په حقیقت کی څه شی نه وه چي تغوط وکړي .

نو په دی وجه زمونږ د جنګ ستونزي دمړو دمړینی په حا ل کی نه دریږي یا چي نه ختمیږي واشنګټن پوست وایی :چي متحده ایالات د (اتلسو ) کالو په موده کي (9) ملیارد دالر د تریا ک د ستونزي په مبا رزه کي مصرف کړي اما افغانی بزګران په همدی موده کي دپخوا په پرتله لا ډیرخشخا ش کرلی اویا تولید کړي دي لکه هغسی چي پروسږکا ل ا فغا نستا ن د نړی د تریاک (82) سلنه مقدا ر تولید کړی دي .

اما هغه څه چي واشنګټن پوست تاسی ته څه نه وایي هغه داد ي چي ددی تریاکو زیا ته برخه پخپله دمتحده ایالاتو په د ننه کي په تریاکو با ندی د معتا د وخلکو لپاره په مصرف رسیږي لکه هغسی چی ویل کیږی چي د هر (یولس) دقیقو په تیریدو سره په متحده ایالاتو کي د تریا کو د متعا د ینو په شمیر کی یوه کس د **ا وپیدی** ( تریاکی مواد) موادو د مقدار او یا د دوز له زیا ت مصرف یا را نیولو څخه زیا تیږي .

په هرصورت کله چي یولږ افشا ګری لکه هغسی چي په وا شنګټن پوست کی ا فغا نی مقالات ځنی حقا یق را وڅیړل یا نشر ته ورسول ، نو زمونږ دولت دهغه په وړاندي څنګه غبرګون ورکوی ؟ څو تنو امریکا یی سنا تورانو د هډ وکي لرونکي ستیک ( T-BOne Steaks) دخوړلو اود سره شراب دڅښلو په وسط کي دیوه شیپی لپاره تم کیږی اوپه ډیر زړه ورتیا سره وایی چی باید دی موضوع ته ډیر جدی پام واړول شي اما وروسته دڅو ورځو په تیرید و سره بیا پنتا ګون ته زیا ت پیسی ورکوی چی بیا پنتا ګون دغه ترلاسه کړی زیا ت پیسی په هغه تور نا معلوم سوری کي ډوب کړي .

یوازې د کنګرس له خوا پنتاګون ته دمصرف تصویب کړ شوی بل (738) بلیون دالر دي او لکه څنګه چي **روټس اکشن** (Roots Action) وویل : په دی کي « د **ترامپ**

دغلط اداری اوبی پا مه بهرنـي پا لیسي د محد ودولو لپا ره هیڅ شی نشته ، دا د نه ختمیدونکی جنګونو د متحده ایالاتو د بهرنـي سیا ست اود نظا می کولو لپا ره د سونګ مواد دي چي **دونا لد ترامپ** ته ډا لي کیږي .

په ساده بیا ن یا عبا رت سره دا په دی مفهوم دي چي له دموکراتانو څخه غوښتنه د نه ختمیدونکي جګړی پروړاندی اوشي لکه چي له **ا نی ها توی** ( Anne Hathway = امریکایی سینما یی لوبغاړي) څخه وغوښتل شي چي د **شوبر لیت فاهو** (Chevy Tahoe) پرتیزرفتا ر موټر باندی نیمه فشار واچوي کوم چی دا په واقیعت کی به پیښ نشي ا وهغه شا ید چی ددی هڅی په تلاش کی کومه علاقه هم ونه ښیي .

**د طا لبا نو اود شورشیا نو شمیره (42000) اټکل شوي :**

داځنی وختونه ممکن دبریا لی جګړی په څیرمعلوم شي ، مګر په یاد ولري چی دمتحده ایالاتو پوځ هرهغه چا چي یاغیان وژنـی ، هغه طبقبندی کوی یا کټګوری کوی ، آیا تا سی یو شورشی نه یا ست نوولی تا سی هغه وژلی ؟ د (42000) کسوڅخه لکه چی معلوم شوی ډیر زیا ت شمیره بی ګناه غیر نظا می خلک وه.

که چیری دا فغا نستا ن ددغه په نشر رسید لی مقا لو کي یو څه شتون ولری او هغه مونږ ته ضرور وی چي زده کړو هغه دا دی چي اصلی اوشرکتی رسنـي لا دوختـه دافغا نستا ن پر واقعا تو اوپر پیښو باندی خبری اتری بنده کړی وه اود ا ددی لپاره چی دغه فاسد اوساه نیونکی نخبګا ن ددغه غیر قا نونی او غیر اخلاقی جګړی د ختمید و اراده نه لرل او تقریباً تر یو ه لسیزه پوری مونږ ته دروغ ویلی دي نو دا زمونږ دنده دی چی د دغو فاسد و اشخا صو مخه ونیسو او پرینیږدو چی دی جګړو دوام ته لمن ووهي .؟

## دلیکونکی په اړه څوکرښي :

د **لی کیمپ** نوی کتاب "بلټ پوینټس او پنچ لاینز" د کریس هیدز لخوا د وړاندوینې سره د لی کیمپ بوک. com کې د مخکینۍ پلور لپا ره شتون لري.

دا کا لم د یوه ژبپوهنې پراساس دی لی کمپ د خپل تلویزیون برنامې "ریډیکټ نن شپه" کې لیکلی او ترسره کړی. دا مقاله په اصل کې د "ټریټ ډیګ" لخوا خپره شوې وه -

------------------------------- **په سلامونو « 2020-01-17»**